سرتور ملنګ ۲۰۱۱/۱۰/۰۷

# زړه ور ولس او ډارن مشر،

د افغان ولس میړانه زړه ورتیا او د وطن سره مینه داسی په اثبات رسیدلی حقایق دی چی نن ورځ ئی د افغانستان دوستان او دشمنان ټول تائید وی. هر وخت چی په دی هیواد تجاوز شوی او یا ئی خپلواکی تر سوال لاندی راغلی نو بیا دی زړور ولس په تشو لاسو او کمو امکاناتو د هیواد او خپل ټاټووبی نه په کلکه دفاع کړی ده. په دی هیواد کی هیڅ یو یرغلګر د زیات وخت لپاره نه ده پاتی شوی بلکی د ډیرو سرکښو او متکبرو لښکرو کوپړی په دی خاوره کی رغړیدلی دی او ډیرو جبارانو په دی خلکو او هیواد د حکومت کولو ارمانونه د ځانه سره ګور ته وړی دی ژوندی مثالونه ئی د چنګیز، انګریز، روسانو ، پنجابیانو او ایرانیانو ماتی او شکستونه دی چی د افغانستان خلک او دوستان ټول وربادندی ویاړی اود افغانستان د تاریخ ویاړ دی خو د دی ټولو سره سره بیا هم کله کله وربادندی داسی ډلی ټپلی او مشران حاکم شوی چی نه تنها ئی وطن او خلکو ته خدمت نه دی کړی بلکی په لوی لاس ئی زمینه دی ته برابره کړی چی بهرنی یرغلګر دی هیواد ته راشی او یا ئی هم د خپلو شخصی ګټو لپاره د هیواد ګټی تر پښو لاندی کړی دی د دا ډول مشرانو او ډلو ټپلو مثالونه هم د افغانستان په تاریخ کی موجود دی چی ژوندی مثال ئی کرزی او د نظار شورا بد نامه ډله ده. کرزی او د نظار شورا په دی هیواد او خلکو داسی ورځی راوستی چی اوس خلک مجبور دی چی هیواد پریږدی. زه نپوهیږم چی دا کرزی په رښتیا د کندهار ده او په رښتیا د عبد الاحد خان کرزی د کورنی ده او که نه. ده خو نه تنها ځان و شرماوو بلکی خپله کورنی او په عمومی توګه ئی ټول پښتانه او پخوانی رهبران و شرمول، دومره په چوکی مین او دومره ډارن، دا څه حال ده؟ دا څه ډول حکومت کول دی. دومره بی غیرتی د یو افغان سره نه ښائی. آیا دی په دی باور لری چی د ده هرڅه لیکل کیږی او د تاریخ یوه برخه ګرزی زه خو په دی باور یم چی د افغانستان په تاریخ کی له سقاو او ربانی پرته بل داسی بی اداری ډارن او ضعیف رهبر نه دی تیر شوی، شاید هم په ټول جهان کی نه وی تیر شوی. کرزی د خپل حکومت په لس کلنه دوره کی په داسی حال کی چی د نړی د ۳۴ هیوادونو نظامی او اقتصادی مرستی ورسره دی هیڅ داسی کار و نکر چی خلک ور باندی وویاړی که چیری دا ډول امکانات د بل هر هیواد په اختیا رکی وای نو اوس به د نړی له ډیرو پرمخ تللو هیوادو سره یو ځای وو ولی کرزی نه تنها د دی امکاناتو نه استفاده و نشوای کړای بلکی هیواد ئی نور هم د بدبختی په لور سوق کړ او خبره اوس دی ته را ورسیده چی نیم هیواد د کرزی له اداری وتلی او د پنجابیانو او ایرانیانو تر قوماندی لاندی ده. کرزی د خپلی بقا لپاره او د یو څو ورځو لپاره چی په شاهی تختونو خوب و کړی د ټول هیواد ګټی او امتیازات ئی د نظار د بد نامی شورا په غیږ کی اچولی او هغوی وربادندی چړچی کوی. آیا په دی هیواد کی نور تاجک هم شته او نور قومونه هم حق لری او که نه؟ د یوی کوچنی ولسوالی خلک چی نفوس ئی د یوی علاقداری نه هم کم ده د ټولو امکاناتو برخمن دی او د یو عادی پنجشیری سره څوک په لوړ اواز خبری نشی کولای. د نظار د بدنامی او فاشستی ډلی هر غړی ځان واجب الاحترام او دقا نون نه پورته ګڼی او عملاً ئی موږ وینو چی هغوی د قانون نه پورته دی. دنظار بدنام شورا چی د مسعود په مشری جوړه شوه له همغی اولی ورځی را په دیخوا ئی تل د هیواد ګټی تر پښو لاندی کړی او د پښتنو په ځپلو ئی لاس پوری کړی. د جهاد په وخت کی ئی د ټول ملت په خلاف د روسانو سره د همکاری پروتوکول لاس لیک کړ او د سالنګ لویه لار ئی روسی کاروانونو ته خلاصه پریښوده تر څو روسان له دی لاری د هیواد مرکزی، جنوب او شرق ولایتونو ته سلاوی انتقال کړی او ولسونه وربادندی تباه کړی. روسانو د مسعود د دی ستر خدمت په مقابل کی د ملیاردونو افغانیو په ارزښت مسعود ته درنی او سقیله سلاوی ورکولی تر څو مسعود د حزب اسلامی مخه و نیسی او د سالنګ لویه لاره خلاص پریږدی. دروسانو له وتلو وروسته مسعود د دوستم او مزاری سره په ائتلاف کی د افغانستان ملی اردو چور کړه او د ملیاردونو ډالرو په ارزښت ئی د ملی اردو سلاوی، موټری ټانکونه طیاری او ټول تجهیزات یا خو پنجشیر ته انتقال کړه او یا ئی هم د کابل ښار په اوسیدونکو باندی استعمال کړل د هغه راپور له مخی چی تیر کال پیاوړی لیکونکی سرلوڅ مراد زی( شاید هم بل لیکوال و چی اوس می دقیق په یاد نه دی) په بهرنیو پښتو ویب پاڼو کی نشر کړ د داکتر نجیب د رژیم له ړنګیدو وروسته چی د نظار شورا او پرچمیانو د کودتا په اساس ړنګ شو او د ملل متحد د سولی پلان ئی په اوبو لاهو کړ په لاندی شمیر د افغانستان د پیاوړی ملی اردو مهمات او وسایط مسعود ته پاتی شول :

1. د وسایطو او مهماتو اضافی پرزی د ۵ ملیاردو ډالرو په ارزښت.
2. سپکه سلا یو میلیون قبضی.
3. مختلف توپونه او هاوانونه ۶۰۰۰۰۰ میله
4. ټانکونه ۲۵۰۰ عرادی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

5. زرهپوشونه ۳۰۰۰ عرادی
6. ترانسپورتی عرادی ۲۹۰۰۰
7. میگ، شکاری طیاری او هلیکوپترونه ۴۵۰ دانی
8. د مخابری دستگاوی ۴۸۰۰ دانی
9. سکاد توغندی دستگاوی ۸
10. ریکتیف راکتونه ۱۰۰۰۰۰ دانی
11. مهمات د سل زره ټنو نه زیات
12. د لونا او اورگان او سکاد راکټونه ۱۰دستگاوی
13. د طیارو د ترمیم فابریکی

د کرزی په راتگ سره پنجشیریان اود نظار د شورا لنډه غری یوځل بیا د خلکو په سرنوشت حاکمان شول، داځل د کرزی له برکته د پنجشیر ولسوالی په ولایت بدله شوه، فهیم مارشال شو او ټول پنچرمینان په وزارت دفاع ، داخله، خارجه او نورو ادارو کی مقرر او په رسمی توگه چور شروع شو.

پنجشیریانو او د نظار شورا لنډه غرو نور د شپی غلاوو ته ضرورت نه درلود په رڼا ورځ او په ټول قوت سره ئی په چور لاس پوری کړ، دولتی ځمکی، دولتی بانکونه، دولتی بودجه، دولتی موټری ټولی د دوی په اختیار کی وی نن ورځ د کابل په ښار کی ټولی لوړی بنگلی ښایسته قصرونه، د مرمی ضد موټری ټول د دوی دی. بیچاره کرزی صاحب په افغانستان کی خو څه نشی ویلای مگر کله چی د هیواد بهر ولاړ شی بیا نو وائی چی زما د کابینی غړی په خارج کی قصرونه جوړه وی. وختی چی کرزی ښه پوهیږی چی په هیواد کی چور روان ده او چور هم د ده معاونین، دکابینی غړی او والیان کوی او دی هغو ته هیڅ هم نشی ویلای نو موږ حق په جانب یو چی ووایو چی کرزی یو ډارن او ضعیف النفس او په چوکی مین مشر ده.
په دی ورځو کی د پارالمانی انتخاباتو د تقلب قیصی روانی دی. کله چی کرزی د پار المانی انتخاباتو د تقلب د څیړلو لپاره چی د معنوی په رهبری باندی تر سره شول یوه خاصه محکمه وټاکله او هغی محکمی هم تر شپږو میاشتو وروسته د میلیونو ډالرو په مصرف کولو سره د خپلو څیړلو نتجی اعلان کړی او د کرزی او د اکثریت خلکو د رضایت او خوشحالی سبب و گرزیدلی نو بیا د خاصی محکمی نتجی د دوهم ځل لپاره د استیناف محکمی هم تائید کړی. خلکو ته یو څه امید واری پیدا شوه چی گوند د کرزی په لس کلنه دوره کی او د قضا په ټولو اجرا اتو کی به حد اقل یو ځل د قضا دحکم په واسطه نسبی عدالت تر سره شی ولی اوس به راشو د کرزی اجرا اتو ته:
لکه مخکی چی ما وویل کرزی په ټول افغانستان کی بل څوک نه وینی هر لوړ پوست باید د نظار شورا او دملی اتل(؟) د چور او سنگر ملگرو ته ورکړی. کله چی د جمهوری ریاست د تقلب نه ډک انتخابات و شول او کرزی انتخابات و گټل (؟) نو د پخوانی کمسیون د رئیس او اداری هیئت د بدلیدلو غوښتنی را پورته شوی او کرزی مجبور شو چی د پخوانی کمسیون غړی تبدیل کړی نو د رئیس په ځای ئی د نظار شورا ملا معنوی د کمسیون درئیس په حیث مقرر کړ ځکه هغه مارشال صاحب معرفی کړی وو او کرزی صاحب هیڅ وخت هم د مارشال صاحب خبره نه ماتولای شی او نه هم ردولای شی. انتخابات راورسیدل او ملا معنوی هم داسی انتخابت رهبری کړل چی هم ثواب شو هم خرما. ملا معنوی په ټولو رایو باندی نر غوندی خط را کښ کړ او هرچاته ئی د هغو د پیسو او زور په حساب رائی ورکړی. اوس خو محکمی ۶۲ وکیلان تقلبی معرفی کړی مگر که خبره رښتیا ته راووځی تر سلو زیات وکیلان په خپلو رایو نه دی کامیاب شوی دا چی ولی محکمی یوازی ۶۲ وکیلان اعلان کړل خبره معلومه ده په نورو وکیلانو ئی زور نه رسیده ځکه هغوی د جناب فهیم صاحب ملگری، خواخوږی، انډیوالان وو او محکمی هغو ته هیڅ هم نشوای ویلای، تاسو وگوری که چیری په پارالمان کی چا د فهیم نوم واخیستل نو حتماً په بوټونو وهل کیږی او و کیلان او خلک مجبور دی چی کله څوک د فهیم نوم واخلی نور خلک باید حتماً صلوات ووائی.
محکمی ثارنوالی او ټولو خلکو چیغی وهلی چی په انتخاباتو کی تقلب شوی مگرم ملا معنوی ویل خیال است ومحال است و جنون او بیا به ئی لبخند هم وکړ چی محکمه اختصاصی غیر قانونی است و تنها کمسیون انتخابات حق مداخله را دارد. تاسو وگوری تر څلور سوه ملیونه زیاتی پیسی په انتخاباتو ولگیدی او بیا د دوهم ځلی شمیرنی لپاره دوباره په ملیونو ډالر مصرف شول ولی هیڅوک د دی حق نلری چی معنوی محکمی ته راکښ کړی ایا دا تقلب چا وکړی اسناد او شواهد موجود دی چی معنوی د هر وکیل نه دوه لکه ډالر واخیستل او محکمی هم ۵۰% تقلب معلوم کړ ولی تر اوسه پوری معنوی په خپل ځای ناست ده، هم خارج ته سفرونه کوی هم باډی گاردان لری او هم په مطبوعاتو کی تمسخر کوی چی محکمه غیر قانونی ده. لکه چی ما مخکی وویل هر پنچشیری او د نظار د بدنامی شورا هر غړی د قانون نه پورته ده. ایا کرزی نه شرمیږی چی دوباره ئی د معنوی نه و غوښتل چی دا بحران باید هغه حل کړی ایا کرزی څه فکر کوی چی دا بحران په خپله رامنځ ته شوی او معنوی هیڅ گناه نلری که چیری همداسی وی نو بیائی ولی په اول



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سر کی د معنوی خبره نه منله او د محکمی دوهم ځلی شمیرنی ته څه ضرورت وو. او ولی ئی دوه ځلی دومره پیسی د رایو په شمیرنه مصرف کړی. څارنوالان قضا او دافغانستان ټول خلک خبر دی چی د دی ټولو درغلیو مسئول ملا معنوی دی.. آیا د افغانستان په کوم قانون کی کرزی ته دا حق ورکړ شوی چی د محکمی حکم لغوه کړی. که چیری دا حق نه وی ورکړ شوی نو بیا ئی ولی د محکمی د حکم د تطبیقولو څخه ډډه وکړه حتماً مارشال او د نظار شورا اخطار ورکړی او کرزی هم د هغو له ډاره هیڅ نشی کولای نو مجبور شو د معنوی نه ئی وغوستل چی د پار المان موضوع حل کړی. معنوی په ډیره بی حیائی او بی شرمی سره یواځی ۹ نفره متقلب اعلان کړل هغه هم هغه خلک چی د نظار شورا ته ئی د نورو په پرتله احترام نه درلود. آیا د کرزی داغوښتنه په *څارنوالی، ستری محکمی او دافغانستان په ټول ولس باندی ملنډی وهل نه دی. کرزی باید موږ او افغان ولس ته ووائی چی دا تقلب چا و کړاو د وکیلانو نه په دوبی او سرای شهزاده کی چا پیسی واخیستی که معنوی دا کارونه نه دی کړی نو چا وکړل هغه نفر دی ولس ته وښی او که معنوی کړی نو بیا ولی د هغه نه څوک پوښتنه نشی کولای او ولی هغه په خلکو پوری خاندی او وائی چی خیال است ومحال اس و جنون.* اوس داسی آوازی دی چی مارشال غواړی چی د هغه ستر خدمت په مقابل کی چی معنوی هغه اود نظار شورا ته وکړ هغه د ستری محکمی رئیس وټاکی او یا هم په کابینه کی ځای ورکړی. هر څه یو حد لری، مگرم د کرزی بی کفایتی اوډار له حده وتلی. ښه داده چی دافغانستان زړه ور ولس نور دا هیواد د کرزی او د نظار شورا د فاشستی ډلی له تسلط نه خلاص کړی. نور چوپ پاته کیدل د هیواد او خلکو سره جفا ده.

د کرزی صاحب له نابغه کارونو یو بل هم داوو چی شترجنرال ته ئی وظیفه ورکړه چی دافغانستان د ولس او د کابل ۶۵۰۰۰ بیگناه اوسیدونکو قاتل او دملی اردو د چور اوتالان رهبر ته د خپلو اعمالو د سزا ورکولو ورځ د ملیونونو ډالرو په مصرف و لمانځی د لمانځلو په مراسمو کی فهیم یو ځل بیا کرزی په بی کفایتی او د مجاهدینو په لری کولو تورن کړ دا هغه زړه توره ده چی هر وخت ئی د نظار شورا لنډه غری د کرزی په ضد استعمالوی کله چی ضیا مسعود هم په قدرت کی وو هغه به هم په هر مجلس کی ویل چی کرزی مجاهدین له قدرته لری کړی دی او فهیم هم وویل چی په ۲۰۰۴ کال طالبان قوی شول ځکه کرزی مجاهدین له قدرته لری کړل هدف ئی د خپل ځان لری کیده وو. د نظار شورا په تیرو لسو کلونو کی د دولت ټول امتیازات و خوړل او له بلی خوا ئی په خپل ټول قوت کرزی تخریب کړ او پښتانه ئی وځپل کله چی د رئیس جمهور معاون خپل رئیس جمهور په بی کفایتی تورن کړی نو آیا خلک به د داسی دولت نه څه امید وکړی معلومدار د داسی دولت سر نوشت همداسی وی لکه زموږ ده. په ړنا ورځ ۵ نفره تروریستان د کابل ټول ښار په گروگان نیسی او خلک له خپلو کورو نشی را وتلای. ما مخکی هم وویل چی هره لحظه که د نظار شورا وغواړی د کرزی ارگ بی زحمته نیولای شی مگرم د نظار شورا د پاره کرزی بهترین انتخاب ده ځکه نوم د کرزی او پښتنو ده آما اختیارات ټول د پنچرمینانو دی.

که خلک غواړی چی دلته د جنگ ټغر ټول شی د خلکو سر اومال په آمن کی وی او دلته دقانون حاکمیت را منځ ته شی او کار د لیاقت او شایستگی په اساس خلکو ته ورکړی نو باید دی حاکمیت او دغلو ډلی ته خاتمه ور کړه شی او که نه نو باید یو ځل بیا د نوی یمی لسیز په انتظار اوسو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ